جاهده جبارخیل ۲۰۱۱/۰۸/۳۱

# افغان لوړپوړي چارواکي اخترچېرته لمانځي!!

د نړۍ پرمخ مختلف قومونه ژوند کوي، چې څوک په یوه او څوک په بله ژبه خبرې کوي، څوک په یو مذهب او څوک بیا بل مذهب لري، چا تر اوسه سختي نه وي لیدلي او ځیني نور بیا د راحت او سوکالۍ پسې ړانده شول، مګر افغان هغه قوم دی، چې په تېرو څو لسیزو کې یې ډېرې بدبختۍ لیدلي او هره ګړۍ یې په مشکله تېره کړې ده.

که د هېواد په داخل کې وه، او که د هېواده بهر، هره لحظه افغان کړیدلي اولس د خپل پاک رب څخه د هېواد د جوړېدو غوښتنې کولې، او همېشه به یې لاسونه د خدای (ج) پاک دربار ته لپه کړي ول، داسې دعاګانې به یې ځینې غوښتې، چې:
ای پاکه ربه ته د خپل فضل او رحم له مخې په افغان کړیدلي اولس د خوشحالۍ، سوکالۍ او آرامۍ وختونه راوله، د خپل هېواد څښتنان یې کړه، ای پاکه ربه، ته افغان قوم، چې د نړۍ پرمخ باغیوره او تاریخ لرونکی قوم دی، په اتفاق او اتحاد کړه. د یو داسې رهبر لرونکي مو کړه، چې زموږ ټولو ناخوالو او بدمرغیو ته د پای ټکی کېښودلای شي.

سوالونه او زارۍ د الله (ج) په نزد قبولې شوې او هغه وخت یې حقیقت ته د رسېدو بڼه غوره کړه، کله چې حامدکرزی لومړی د انتقالي، بیا موقتي ادارې او وروسته یې د ولسمشرۍ څوکۍ د آزادو انتخاباتوله لارې خپله کړه، افغانانو چې څنګه دعا کړې وه، پاک الله (ج) یې هماغسې دعا قبوله کړه، او داسې یو رحم دله، با جراته، جهادي، او په ولس مین ولسمشر یې د افغان ولس په نصیب کړ، چې تر هرڅا یې زیاته توجهه د افغانانو د ژوندانه د ښه والي، سولې، ملي پخلاینې او روغې جوړې ته وقف کړې، د افغانستان ولسمشر جلالتماب حامدکرزي چې په تېرو لسو کلونو کې څومره لاسته راوړنې درلودلې دي، په هغه خاورې نه شو اړولی، او سترګې پرې نه شو پټولی، د نوموړي ترمشرۍ لاندې چې افغانانو په څومره ډګرونو کې پرمختګونه کړي، د توقع او امیدونو خلاف وه، د ترقۍ او پرمختګ ترڅنګ به په هغه چلنجونو هم سترګې نه پټوه، کوم سره چې ښاغلی ولسمشر مخامخ شوی، مګر متاسفانه په زیاتو برخو کې یې لوړپوړچارواکو ملاتړ نه دی کړی، او ځانونه یې پرې ناخبره کړي، خو بیا هم خدای(ج) ښاغلي کرزي ته دا توان ورکړی، چې په یوازې سر یې مقابله وکړي او د حل لاره ورته ولټوي، دا چې په تېرو څو لسیزو او د اوسني حکومت په دوران کې هغه کورنۍ چې خپل غړي یې هېواد ته د امنیت راوستلو پرسر، د هېواد پرمختګ او ترقۍ پرسر او هېوادوالو ته د سوکاله ژوند برابرولو پرسر یې له لاسه وکړی، اوس د هغوی کورنۍ لاس نیونې او همکارۍ ته اړتیا لري، یادې کورنۍ داسې شفقت ته اړتیا لري، چې ترڅو وهڅېږي، چې خپل هېواد او هېوادوالو سره دوامداره او نه شلېدونکې مینې ته دوام ورکړي، مګر بدبختانه چې زموږ زیاتره لوړپوړي چارواکي پرځای د دې چې دخوشحالۍ په ورځو کې د یادو کورنۍ سره همکاري او لاس نیوی یې وکړي، د خپل ولس په منځ کې د اختر لمونځ ادا کړي، د حکومت د پالیسو، کړنلارو، لاسته راوړنو، د سولې د بهیر او دولت سره د همکارۍ په اړه عام ولس سره خبرې وکړي، اخترونه په بهر ملکونو کې تېروي، ځینې خو د اختر څخه څو ورځې ترمخه هېواد څخه تللي وي او ځینې بیا داسې پلان لري، چې د ولسمشر سره د لمونځ ادا کولو بعد هېواد څخه پښې سپکې کړي او بل هېواد ته د اخترلمانځنې په خاطر ولاړ شي، که چیرته زموږ وزیرصاحبان، د مستقیلو ادارو رئیسان، د پارلمان غړي، والیان او نور لوړپوړي چارواکي د هېواد څخه بهر اختر تېروي، پورته ذکر شویو کورنیو سره به غمرازي څوک کوي، څوک به د هغوی لاس نیوی کوی، څوک به یې زړه ته تسکین ورکوي، څوک به یې وهڅوي چې که دوی د خپلې کورنۍ یو غړی له لاسه ورکړی د افغانستان ټول حکومت یې ترشاه ولاړ دی، څوک به په ولایاتو کې د حکومت د پالیسو، کړنلارو، لاسته راوړنو او د سولې د بهیر په اړه د عامو خلکو سره خبرې کوي.

که زموږ د ولسمشر وړور شهیدکېږي، ځانوژونکي حملې پرې کېږي، د وطن واړه او تنکي ځوانان یې د نورو په لمسون ځانوژونکو حملو ته چمتو کېږي، او که هر څومره یې ژوند د نورو ټولو چارواکو او مسوولینو پرتله له ګواښ سره مخامخ دی، خو بیا هم د خپل خاص لطف، رحم، شفقت او مهربانۍ له مخې په مخالفو وروڼو غږ کوي، سولې ته یې رابولي، د ورورولۍ لاس ورکول غواړي، په یو ټغر ورسره ناسته او په یو دسترخوان ورسره ډوډۍ خوړل غواړي د خپل عاطفې له مخې هغه تنکي ځوانان چې ځانوژونکو حملو ته چمتو شوي وه، د هغوی برائت یې اعلان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړ، هغوی يې دې ته وهڅول، چې سبقونه ووايي، پرځای د دې چې د وطن په ورانولو کې ونډه واخلي، ولې د وطن په آبادولو کې برخه نه اخلي؟ ولې که نن هغوی زموږ بې ګناه او زورېدلي اولس ته غم ورکول غواړي سبا يې ولې د درد درمان نه شي؟ ولې که نن دوی نه پوهېږي، سبا به يې پر هر څه سرخلاص وي، د خپل دښمن او دوست په انتخاب کې به ښه پرېکړه کولای شي.

که چيرته هر چا د تېرې ورځې پروګرام د تلويزيون له لارې ليدلی وي، چې افغان ولسمشر هغه ۲۰ تنه تنکي ځوانان چې په کوم تکتيک او هنر ځانوژونکو حملو ته چمتو شوي ول، او په کوم تدبير د ښاغلي ولسمشر لخواء معاف اعلان شول، واقعاً به يې ژړلي وی، واقعاً به يې شکر ويستی وای، چې هغه دعاګانې چې د رحم دله ولسمشر غوښتنې يې کړې وې پوره شوي، او د يو باشجاعته او مېړني ولسمشر څښتنان دي.

زه د خپلو لوړپوړو چارواکو څخه غوښتنه کوم، چې د خپل ولسمشر سره ملاتړي شي، د سولې، ملي پخلاينې، روغې جوړې او دې وطن ته د سوکالۍ راتګ کې يوځای رغنده رول اداء کړي.

او د ولسمشر څخه مې غوښتنه داده، چې يو هئيت دې وټاکي، د ټولو لوړپوړو چارواکو په اړه دې پلټنه وکړي، چې څومره په هېواد کې د هېوادوالو سره يوځای په مرکز، ولاياتو او ولسواليو کې اختر لمانځي او څومره يې د اختر لمانځلو په خاطر نورو هېوادونو ته تللي.

خدای(ج) دې وکړي چې د ولسمشر سره د لوړپوړو چارواکو ترڅنګ د افغانستان ټول وګړي لاس يو کړي، د ټولو کړنلارو يې ملاتړ وکړي او همېشه يې تر شاه ودرېږي، ترڅو هېواد ته سوله، نيکمرغي، خوشحالي او سوکالي راولي او د هغسې ژوندانه څښتنان شوه، کوم چې د نړۍ نور وګړي يې لري.

په همدې هيله



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ